مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولي ارين

۲۰۲۶/۰۱/۰۴

# له ونزويلا نه انسان‌تښتونه

## نړيواله چوپتيا او د ملګرو ملتونو بې‌وسي

نړيوال کنوانسيونونه هغه نړيوال تړونونه او هوکړې دي چې د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې د نړۍ د هېوادونو له خوا لاسليک شوي او د نړيوال نظم، نړيوالو اصولواو نړيول امنيت يو د بل په چارو او ارضی تماميت کې د نه دخالت ضمانت کوي. نړيوالې ژمنې تسجيلوي د هېوادونو تر منځ د قانون پر بنسټ د ژمنو د عملی کولو له پاره ترې کار اخيستل کېږي او د هېوادونو د قوانينو برخه ګرځي.

دغه کنوانسيونونه د نړيوال اصولو او شرايطو په درلودلو سره د هېوادونو تر مينځ اړيکې تنظيموي، چې د نړۍ په تيرو تاريخی مرحلو کې دغو قوانينو او کنوانسينونو ته يو څه ژمنتيا موجوده وه، مګر په ورستيو کې دوه سوپرپاور هېوادونو امريکا او شوروی اتحاد خپل سري پيل کړه او د نړيوال کنوانسينونو له اصولو يې سرغړونې تر سره کړې، پر ويتنام کې امريکا او پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل نړيوال نظم له ستر بحران سره مخ کړ.

په ۱۳۵۸کال د جدی په شپږمه نيټه د شوروي اتحاد د سرې اردو له جنايت او وحشت څخه ډک تيري او د هغه دولت چې د نړۍ ټولو هېوادو په رسميت پيژندلی و له منځه وړل، د وخت ولسمشر او د کورنۍ د يو شمېرغړو بې رحمانه وژل او پر ځای يې مسکو پرسته ګوډاګی ببرک کارمل د ټانک په نلۍ سپور د کابل پر تخت ټومبل هغه څه وو، چې په ټوله کې د نړيوال کنوانسينونو د پريکړو خلاف عمل ورته ويلای شو.

له بله پلوه د شوروي دغه غير مسؤلانه تجاوز نه يوازې زموږ د قهرمان په آزادۍ مين ولس، بلکې د سيمې او نړيوال غبرګون او ماتې سره هم مخ شو. دا د شوروي اتحاد د ولسونو غوښتنه نه وه، بلکې د ځينو استعمار غوښتونکو لوړ پوړو چارواکو او د «کې.ګې.بې» د استخباراتي کړيو لجوجانه پريکړه وه چې پر افغانستان باندې پوځي تيری وکړي، دا د شوروی د واکمنانو ستره اشتباه او په نهايت کې سترخيانت او جنايت وو.

لکه څنګه چې د پخواني شوروي اتحاد لوړ پوړی افسر جنرال ليا خوفسکی په خپل اثر «افغان ميرانه او غميزه» کې ليکلي:

«۱۹۷۹د ديسمبر۲۷ مې تيری هسی کومه کودتا نه وه چې په دغه شپه تر سره شوه او واک پرچميانو ته چې «شوروی لوری يې ملاتړ کاوه» و ليږدول شو، بلکه په حقيقت کې دې کار په افغانستان کې د کورنۍ جګړی زياتې پراختيا ته پکې وواهه چې هم يې افغانستان او هم شوروی اتحاد ته په تاريخ کې له غمه ډکه پاڼه پرانستله او هم يې نړيوال اشول تر پښو لاندې کړل.»

د شوروی د پاشلو وروسته دوه قطبي نړۍ خپل توازن له لاسه ورکړ، امريکا د يو سوپرپاور طاقت په توګه په خپل سريو لاس پورې کړ.د تاريخ په بيلا بيلو مرحلو کې امريکا پر مکسيکو،ُفليپين، هيروشيما، کوريا ويتنام عراق، سوريې او ليبيا د ټولو نړيوالو قوانينو په نه نطر کې نيولو سره بې رحمانه تجاوزونه تر سره کړل د دغو هېوادو پر ولسونو يې بې رحمانه تعزيرات وضع کړل او د دوي ملي شتمنۍ يې چور او چپاول کړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

امریکایانو د شوروي د ستړي ماتي نه درس وانه خیست، مګر د اسامه بن لادن موجودیت یې په افغانستان کې د ځان له پاره پر افغانستان د یرغل بهانه ونیوه او د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف یې زموږ په ګران هېواد یرغل وکړ، د شلو کالو په لړ کې یې د دموکراسی تر نامه لاندې هغه ستر جنایتونه تر کړل، چې تاریخ یې نه شي هېرولای.
زموږ پر ګران هېواد یې خپل لاسپوځي ګوډاګیان او هیواد دښمنه څېرې د قدرت په ګدۍ کینولې، چې د هیواد ملی ارزښتونو دوي ته هیڅ ارزښت نه درلود.

امریکایانو او غربي هیوادونو چې تل د دموکراسی چیغې او نارې، سورې وهلې، داسي دموکراسي یې غوښته چې زموږ په ګران هېواد کې پیاده کړي، چې اصول یې پر فساد، چور چپاول، بې عزتي او نورو منفي پدیدو ولاړه وه. مګر افغان ولس د تاریخ په اوږدو کې د پردیو استعمار او پردي پالونکي جنایت کاران نه دی تحمل کړي همدا علت دی، چې دغه قهرمان ولس او مبارزینو یې امریکا ته داسي خوله ماتونکی ګذار ورکړ چې د تېرو نورو متجاوزینو په څېر په تیښته وتښتیدل او تاریخي ماته یې تر لاسه کړه.

که چېرې راشو اصلی موضوع ته، پر افغانستان د امریکایانو تېري ته خو اسامه بن لادن یوه پلمه وه چې یرغل یې وکړ، مګر ایا پر ونزویلا هم داسي کومه بانه شته؟.

امریکا له ډېر وخت راهیسي پر ونزویلا بندیزونه لګولی وو، خو دا دی پرون شپه یې د نړیوال ټولو قوانینو پرته د امریکي د متحده ایالتو پوځونو د لاتیني امریکا د یو مستقل هېواد ونزویلا خاورې ته ننوتل او د هغه هېواد د ولس په رایو منتخب ولسمشر نیکلاس مادورو او د هغه میرمن یې ونیول د نړیوالوټولو موازینو خلاف یې ولسمشر لاس تړلی د محاکمې له پاره امریکا ته یوړ.

د ۲۰۲۲ کال د فبرورې د میاشتې پر ۲۲ مه نیټه چې د روسیې خاص عملیات پر اکراین پیل شول د نړۍ له هر لورې پر روسیې بندیزونه و لګول شول او د غرب میډیا د نړیوالو حقوقو د نقض ډنډورې پیل کړې خو نن همهغه د غرب میډیا چېرې ده او ولې غږ نه پورته کوي؟

**ډېرى نړیوال حقوقپوهان واي:**

«اقتصادي بندیزونه چې خلک لوږې ته رسوي، د جمعي سزا بڼه لري، د حکومتونو د بدلولو هڅه د ملي حاکمیت ښکاره نقض دي، امریکا ځان د نړیوال نظم ساتونکی بولي خو په عمل کې یې میلیونونه انسانان قرباني کړي.»

داسي هم ویل کېږي چې د نړۍ د سترو هېوادو چوپتیا ممکن د چین، روسیې او امریکا تر مینځ پټه معامله وي چې د ځینو امتیازاتو په مقابل کې چې تایوان او اوکراین هم په نظر کې وي، چې په مقابل کې چین او روس ونزویلا امریکا ته سپارلی وي، د شرم او تعجب خبره خو داده چې ترامپ په ډېره سپین سترګی په افتخار سره وایي:

«هغه څه چې امریکا وکړل، یاني د یو هېواد جمهور رئیس یې د هغه د مېرمن سره د نظامي حملې په نتیجه کې ونیول او امریکا ته یې وسپارل بل هیڅ هېواد داسې کار نه شي کولای.»

مګر د امریکا دغه بربنډ تجاوز چې خپله د امریکا د قانون او نړیوالو موازینو نه سرغړونه ده، خو ملګري ملتونه او اروپایي شورا چوپ پاتي دي، چې په واقیعت کې دا د ملګروملتونو بې وسي او بې کفایتی بربنډوي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ